د افغانستان اسلامي جمهوري دولت
اطلاعاتو ته د لاسرسي کمېسيون

دولت جمهوری اسلامی افغانستان
کمیسیون دسترسی به اطلاعات

Islamic Republic of Afghanistan

Access to Information Commission

## اطلاعاتو ته د لاسرسي کمېسيون اوونيزه غونډه

| | |
|---|---|
| نېټه | ۱۳۹۹ کال د سلواغې ۱۸ مه |
| ځای | اطلاعاتو ته د لاسرسي کمېسيون، کابل، افغانستان |
| د غونډې رييس | ښاغلی عين الدين بهادري د کمېسيون رييس |
| ګډونوال | د کمېسيون مرستياله آغلې نجيبه مرام ، د کمېسيون کمېشنر ښاغلی حمدالله ارباب او د کمېسيون د دارالانشا رييس ښاغلی عصمت الله حيدري. |
| د غونډې تنظيموونکی | عصمت الله حيدري |

اطلاعاتو ته د لاسرسي کمېسيون اوونيزه غونډه د ۱۳۹۹ کال، د سلواغې ۱۸ مه، دوشنبه ورځ د پورته ګډونوالو په شتون کې تر سره او په لاندې مواردو بحث او د اندونه تبادله وشو:

1. په غونډه کې لومړی ښاغلي عصمت الله حيدري د دارالانشا رياست کړنو په اړه راپور ورکړل او کاري پرمختګونه يې ياد کړل.
2. شکايتونو ته د رسېدنې آمر د شکايتونو په اړه راپور ورکړل او د لاندې ادارو په اړه داسې پرېکړې وشوې:

✓ **ملي راډيو تلويزيون:** د پژواک خبري اژانس لخوا د ډيوې پتنګ د معاش او لګښتونو په اړه د اطلاعاتو غوښتنه؛ دا چې وړاندې هم له ياد بنسټ سره څو ځله په دې اړه څو غونډې ترسره شوي او دې يادې اداري لخوا هم ژمنه شوې وه چې دا اطلاعات به په رسمي ډول، اطلاعاتو ته د لاسرسي کمېسيون او غوښتونکي سره شريک کړي. خو تر اوسه پورې نه له کمېسيون او نه هم له غوښتونکي سره پورته اطلاعات شريک شوي دي. نو پر همدې بنسټ د کمېسيون غړو په دې اړه د ياد بنسټ د اطلاع رسونې مرجع مسوول ته د رسمي توصيې ورکول تجويز کړل.

✓ **د ملي احصايې او معلوماتو اداره:** څرنګه چې د ملي احصايې او معلوماتو اداري رييس؛ د کمېسيون پرېکړې په اړه، چې د ياد بنسټ رييس يې يو مياشت کسر معاش کړی وه، قناعت نه لري او خپله عريضه يې اړوندې محکمې ته استولې ده. اطلاعاتو ته د لاسرسي کمېسيون غړو د دې سکالو څېړلو لپاره، د دارالانشا رياست حقوقي سلاکار ښاغلی محمد حسن پويا د استازي په ډول او د دارالانشا رياست، شکايتونو ته د رسېدنې آمر ښاغلی رحمت الله پيروزي د علي البدل غړي په ډول وګمارل.

✓ **ملي دفاع وزارت او مرکزي بانک:** د ټولو شکايتونو سربېره، د ادارو د قضايي ارجاع څرنګوالي په اړه، چې اخطاريه ورته ورکړل شوې او تراوسه يې هم غوښتونکي ته اطلاعات نه دي ورکړي هم خبري وشوې. په پايله کې پرېکړه وشوه چې اطلاعاتو ته د لاسرسي قانون ۲۴ مادې په اساس « *۱. د کمېسيون پرېکړه وروستۍ ده له ابلاغ وروسته د پلي کولو وړ دی۲. که چېرې اداره د کمېسيون پرېکړه رعايت نه کړي، کمېسيون کولای شي، موضوع واکمنو مراجعو يا مقاماتو ته محول کړي»* بحث وکړ او د «مقاماتو يا واکمنو مراجعو » په اړه مشورې وشوې.

3. **د کمېسيون د وېب‌پاڼې مينو:** د دارالانشا رياست عامه پوهاوي آمريت؛ اطلاعاتو ته د لاسرسي قانون ۱۵ مادې شاخصونو، د څارنې او ارزونې آمريت د نظرو په رڼا کې، اطلاعاتو ته د لاسرسي کمېسيون وېب‌پاڼې ته مينوګانې طرح او ترتيب کړي. د کمېسيون غړو، دارالانشا رييس او اړوندو آمرينو په دې سکالو بحث وکړ او په پايله کې د کمېسيون د غړو پرېکړه پر دې شوه

چې داسې طرحه دې ترتیب شي ترڅو په هغې کې د وېبپاڼې عمومي وضعیت او هم اطلاعاتو ته د لاسرسي قانون ۱۵ مادې شاخصونه په پام کې ونیول شي.

د کمېسیون رییس ښاغلی عین الدین بهادري

د کمېسیون مرستیاله آغلې نجیبه مرام

د کمېسیون کمېشنره آغلې زهرا موسوي

د کمېسیون منشي ښاغلی حمدالله ارباب